# دوستم دې واکمن وي، خو چې لور مې ښوونځي ته لاړه شي

فيسبوک مې کته چې پورتنۍ جمله د افغانستان انټرنشنل پر پاڼه په دري ژبه کې راغله، ليکلي وو چې د يوه پښتانه وينا ده.

د افغانستان انټرنشنل راپورونه ناپېيلي نه دي، دا رسنۍ له اوسنۍ واکمنۍ سره ستراتيژيکه دښمني لري او هغه په خپلو راپورونو کې پالي. يو نيم راپور که د دې له پاره خپلواک ورکړي چې څوک يې پر دښمنۍ ژر پوه نه شي !؟ په هر صورت، د نجونو د زده کړو په اړه چې دوی کوم راپور ورکړی وو، دا يې له يو نيم خپلواک خبر يو بللی شو.

موږ په دې راپور کې د يوه افغان د زړه اه و فرياد محسوسولی شو چې څومره سختو ته حاضر شوی دی، خو چې لور يې زده کړې وکړي.

دوستم هغه څوک دی چې قتل، وحشت، زنا، غلا، لواطت او هر ډول فساد ورپورې تړلی دی. دی او ملګري يې د دې زمانې چنګيزيان دي.

دوستم هغه څوک دی چې د ( ګلم جم ) نوم ورپورې تړلی دی. مانا دا چې دی او لښکر يې پر کومه سيمه ورشي، بيا د ټولو ژونديو موجوداتو ژوند پای ته رسوي او ودانۍ ړنګوي.

دوستم هغه کرايي جنګيالی دی چې هر بهرني ځواک د اهدافو د [illegible] له پاره وکاروه. دوستم هغه څوک دی چې د داکتر نحيب الله د واکمنۍ پر وخت هم چېرته په اسانه جګړې ته نه استول کېده، ځکه ده خپل او پردی نه کته او د جګړې پر وخت به يې هر څوک وژل.

دوستم يو داسې شخص دی چې څوک ځان ته انسان وايي، له ده به يې کرکه کېږي. دی يو نړۍ وال مجرم دی، په زرګونو بنديان يې د جګړې د نړۍوالو اصولو پر خلاف

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وژلي. تر کومه ځایه چې پوهېږو، امریکا او اروپا ته سفر کولی نه شي، یواځې ترکیې ته ځي چې هغوی یې خپلوان دي.

رابه شو دې ته چې ولې یو افغان اړ کېږي چې د خپلې لور د زده کړو له پاره د یوه داسې چا واکمني ومني چې سبا به یې لور د ښوونځي له لارې پورته کېږي، عزت به یې لوټېږي، بیا به وژل کېږي او مړی به یې چېرته لوخ غورځول کېږي. دا د دوستم په واکمنۍ پورې تړلې پېښې دي.

ټول پوهېږي چې نږدې درې کاله بشپړېږي، پر نجونو تر شپږم پورته زده کړې بندې دي. په دې اړه داسې دلایل وړاندې کېږي چې ملت یې سربېاله او ناهیلی کړی دی. د اوسنیو واکمنو له دښمنانو سره هم بل هېڅ دلیل نه شته، ځکه اوس داسې مثبت بدلونونه راغلي چې ټول ملت ورته خوښ دی او نه غواړي چې خدای مکړه پخواني غله، قاتلان، جاسوسان او غاصبان بیا واکمن شي، خو چې کله هغوی د نجونو د زده کړو موضوع یاده کړي، بیا ملت هم ورسره همغږی شي. هغوی هم پوهېږي چې له کوم اړخه اوسني واکمن وټکوي، هماغه یادوي. که نه ، هر څوک پوه دي چې د جنگسالارانو په واکمنۍ کې نجونو او ښځو څه ارزښت درلود.

ولې باید ملت اړ شي چې د ښځو او نجونو د زده کړو او کار له پاره د امریکا او اروپا دروازې وټکوي ؟ څه اړتیا ده چې خپل ملت اړ کړو د دې پرځای چې له موږ خپل حق وغواړي، له بهرنیانو یې وغواړي ؟

له کومې ورځې چې ښوونځي تړل شوي، زموږ ټولنې په ښوونیز او پوهنیز ډگر کې ستر زیان لیدلی، دا زیان بچي کوي، بیا یې لمسیان، کړوسیان او ... زېږېږي. له دې سره چې گڼ مثبت بدلونونه راغلي، خو یواځې همدې منفي بدلون ټول ملت خپه کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې لوښې او خويندې يې تر شپږم پورته زده کړې کولی نه شي. له بده مرغه کومه بله رڼه تګلاره هم ورته اعلان شوې نه ده.

که کيسه همداسې غځېږي، نو له دې وروسته به ښوونيز کډوال ډېر شي، هغه څوک به هېواد کې پاتې کېږي چې بهر ته د تګ وس نه لري، خو هغوی به وځي چې بهر ته د تګ شونتيا لري. هسې خو ګڼ افغانان په بهر کې د ښې ګټې او هوسا ژوند له پاره هېواد پرېږدي، ښوونيز کډوال به يې هم ملګري شي. که دا بهير همداسې پر مخ ځي، نو يو وخت به داسې راشي چې په بهر کې به يو بل افغانستان جوړ شي او بيا به اوسنۍ واکمنۍ ته اغېزناک سرخوږی جوړوي او يو بل يرغل ته به لار هواره کړي.

**نو ای واکمنو !!!**

**افغانان مه اړ کوئ چې دوستم غوندې جنګسالاران تر تاسو غوره وبولي.**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**